Vaccinate WA
CovidVaccineWA.org

# د COVID-19 واکسینونه - یو ظرفیته او برعکس دوه ظرفیته

ګیډای شي تاسو د "یو ظرفیته" او "دوه ظرفیته" اصطلاحات اوریدلي وي چې د COVID-19 د واکسینونو د تشریح لپاره کارول کیږي. راځئ چې د دې دوه ډوله واکسینونو ترمنځ په توپیرونو او په شرایطو د برابریدو په صورت کې د دوه ظرفیتي تقویه کوونکي د ترلاسه کولو په اهمیت باندې خبرې وکړو.

## د یو ظرفیتي او دوه ظرفیتي واکسینونو ترمنځ توپیر څه دی؟

یو ظرفیتي واکسین هغه واکسین ته ویل کیږي چې د ویروس له یو جز یا ترکیب څخه جوړ شوی وي.

دوه ظرفیتي واکسین هغه واکسین ته ویل کیږي چې د ویروس له دوو جزونو یا ترکیبونو څخه جوړ شوی وي.

## د COVID-19 کوم واکسینونه یو ظرفیتي او کوم یې دوه ظرفیتي دي؟

د COVID-19 اصلي واکسینونه د ټولو لومړنیو لړیو او اصلي تقویه کوونکو لپاره یو ظرفیتي دي*. دا واکسینونه د هغه ویروس له اصلي جز څخه جوړ شوي دي چې د COVID-19 د ناروغۍ سبب کیږي.

د COVID-19 اپډیټ شوي Pfizer او Moderna تقویه کوونکي دوه ظرفیتي دي. دوی د COVID-19 له اصلي جز، نویو بڼو لکه اومیکرون، BA.4 او BA.5 څخه جوړ شوي دي.

## آیا دوه ظرفیتي واکسینونه د یو ظرفیتي واکسینونو په پرتله زیات اغیزناک دي؟

د اپډیټ شویو تقویه کوونکو لپاره لومړني کلینیکي ازمیښتونه په ګوته کوي، چې د COVID-19 دوه ظرفیتي تقویه کوونکي د یوه ظرفیتي تقویه کوونکو په پرتله د COVID-19 ناروغۍ پر وړاندې زیات خوندیتوب وړاندې کوي او کولای شي په شدید ډول د ناروغ کیدو/مړینې په ځانګړې توګه د اومیکرون پر وړاندې د خویتوب دوره اوږده کړي.

*د Novavax تقویه کوونکی یو ظرفیته دی او د هغو لویانو لپاره د لاسرسي وړ دی چې لومړنۍ لړۍ یې بشپړه کړې وي، مګر له دې وړاندې یې د COVID-19 تقویه کوونکی نه وي ترلاسه کړی - او که چیرې دوی نه شي کولای یا نه غواړي چې اپډیټ شوی دوه ظرفیتي mRNA ترلاسه کړي. د Novavax تقویه کوونکي د اومیکرون بڼه خپله موخه نه ګرځوي.*

## ولې د دوه ظرفیتي تقویه کوونکي ترلاسه کولو مهم دي؟

د دوه ظرفیتي تقویه کوونکي ترلاسه کول خورا مهم دي، ځکه دا د COVID-19 د واکسینونو یوازنۍ بڼه ده چې د COVID-19 د تر ټولو پیاوړې بڼې یا اومیکرون پر وړاندې چې اوسمهال په متحده آیالتونو کې د خپریدو په حال کې دی جوړ شوي دي.

## که چیرې له وړاندې په COVID-19 باندې اخته وم یا مې یو ظرفیتي تقویه کوونکی ترلاسه کړی وي، باید دوه ظرفیتي تقویه کوونکی ترلاسه کړم؟

هو، که چیرې تاسو په شرایطو برابر یاستئ او له وړاندې مو د COVID-19 یو ظرفیتي تقویه کوونکی هم ترلاسه کړی وي، نو سپارښتنه کیږي چې دوه ظرفیته تقویه کوونکی هم ترلاسه کړئ. د ډیر تر ډیره اغیزناک والي لپاره هغه خلک چې په دې وروستیو کې په COVID-19 باندې اخته شوي دي، باید د اپډېټ شوي تقویه کوونکي په ګډون د COVID-19 واکسینونو ترلاسه کول د مثبت معاینې یا نښو نښانو له څرګندیدو وروسته تر 3 میاشتو پورې وځنډوي.

## آیا زه باید خپل دوه ظرفیتي تقویه کوونکی له مشخص برنډ څخه ترلاسه کړم؟

له 6 میاشتو څخه تر 4 کلنو پورې عمر لرونکي ماشومان باید د خپلې لومړنۍ لړۍ د برنډ په څیر اپډیټ شوی دوه ظرفیتي تقویه کوونکی ترلاسه کړي.

5 کلن او یا له هغه څخه زیات عمر لرونکي ماشومان چې د Pfizer لومړنۍ لړۍ یې بشپړه کړې ده باید یوازې د Pfizer دوه ظرفیتي تقویه کوونکی ترلاسه کړي.

5 کلن او یا له هغه څخه زیات عمر لرونکي ماشومان چې د Moderna لومړنۍ لړۍ یې بشپړه کړې ده باید یوازې د Moderna دوه ظرفیتي تقویه کوونکی ترلاسه کړي.

هغه خلک چې 6 کاله او یا له هغې څخه زیات عمر لري د لومړنۍ لړۍ برنډ ته له کتو پرته کولای شي د Moderna او یا Pfizer دوه ظرفیتي تقویه کوونکی ترلاسه کړي.

**DOH 825-082 December 2022 Pashto**

په یوه بل فارمټ کې د دغه سند د غوښتنې لپاره له 1-800-525-0127 شمېرېسره اړیکه ونیسئ. کاڼه او یا هغه پیرودونکي چې د اورېدو ستونزه لري، په مهربانۍ سره 711 (Washington Relay) تهزنګ ووهئ او یا civil.rights@doh.wa.gov ته برښنالیک ور واستوئ.

Washington State Department of Health